Fact Sheet

# AFGHANISTAN

UNEP

## په افغانستان کی طبیعي زیرمې، سوله او جنګ



په افغانستان کې درطبیعي زیرمو مدیریت یوه ډیره پیچلې، حساسه او سیاسي موضوع ده. طبیعي زیرمې لکه ځمکه، اوبه، ځنګلونه او معدني زیرمې، د هیواد د یوې روښانه، ښیرازه او سوکاله راتلونکې لپاره امیدونه دي. پداسې حال کې چې د نړیواله توجه در مسلحو مخالفینو پر خلاف پر دوامداره جنګ باندی متمرکز شویدی، او نور ډیر جنګونه د هیواد په شا او خوا کې په مختلفو کچو او شدت سره را مینځته کیږي. طبیعي زیرمې تل د همدې جنګونو بنسټ تشکیلوی او په هیواد کې له تاو تریخوالې ډک جنګونو اصلی سبب هم د ځمکې او اوبو پر سر لانجې ښودل شویدي. د دې په متن کې، د طبیعي زیرمو اغیزمن مدیریت د جنګونو/لانجو د مخنیوې لپاره یوه غوره وسیله ده، او د دې له لارې، د ملګرو ملتونو چاپیریال پروګرام (UNEP) ، په افغانستان کې د ځمکو، اوبو، ځنګلونو، مخدره توکو او د استخراجي سکتور د ننګونو د څیړلو او د سولې د تأمین فرصتونو په لټه کې دی.

### نړیوالې ټولنې ته د طبیعي زیرمو مدیریت وړاندیزونه:

- په پراختیایی پروژو او بشری مرستو کې د چاپیریالي تأثیراتو ارزونې (EIAs) او د لانجو حساسو طریقو شاملول
- د تر ټولو ښو طریقو د پلې کولو موخه د ملي وړتیاوو/ظرفیتونو جوړول د طبیعي زیرمو په مدیریت، تصمیم نیولو، پلان جوړولو او پلې کولو کې د خلکو ګډون لپاره
- د معلوماتو/ارقامو پر را غونډولو او په پراختیایی او د بشري مرستو په پروژو کې د خطر کشفولو په وخت کې د خبرتیا پر برابرولو باندی تشویق/هڅوول.
- په سیمه ایز او ملي کچه د طبیعي زیرمو پر سر د لانجو د حلولو لپاره د دریمګریو خواو منځګړتوب تقویه کول.
- په افغانستان کې د طبیعي زیرمو مدیریت اړوندو موضوعاتو په اړه نړیواله پوهاوې ورکول او د زیرمو پر سر د لانجو د مخنیوې لپاره نړیوالو مرستو سریع جلبول.

## د افغانستان طبیعي زېرمې

### ځمکه:

وروستنیو سروې ګانو، ځمکه د له خشونت څخه ډکو جنګونو اصلی لامل په ګوته کړیدی چې د ځمکو په ملکیت کې د برابری د نشتوالی، نژادي کشمکشونه، ځمکې ته لاسرسی، د ځمکو د اصلاحاتو نا کافی فعالیتونه، د ځمکې په ارزوونه کې اختلافات او د نفوسو د زیاتوالي په سبب، حالات لا پسی خرابیږي.

### اوبه:

اوبه ځمکې ته ارزښت ور بخښي، او د وړاند وینې وړ او کافي اورښتونه د کرنیز معیشت او څړ ځایونو لپاره یو حیاتي ماده ده چې د نفوسو غوڅ اکثریت پر هغه باندي تکیه لري؛ خو بیاهم اوبو لګولو شبکې او د اوبو د زیرمه کولو وړتیاوې په دریو لسیزو کې د پانګوونې نشتوالی، جنګونو او نیمګړي مدیریت، خورا سخت زیانمنې شویدي.

### کانونه:

وروستنیو جیولوژیکي سرویو، د افغانستان د معدني زیرمو ارزښت ۱-۳ تریلیونو امریکایی دالرو پوري اټکل کړیدی، او د افغانستان دولت او نړیواله ټولنه دې سکتور ته په هیواد کې د اقتصادي پراختیا او پرځان بسیا/خود کفائی تر لاسه کولو لپاره تر ټولو ښه ماشین/وسیله ګني. خو د هیواد اقتصادي غوړیدا، د ټولو افغانانو د ګټې لپاره مسؤولانه او شفاف مدیریت پوری تړلې ده.

### ځنګلونه:

د دې هیواد ځنګلونه د قابل تجدید انرژۍ (د سوند او د آبادۍ لرګي، د ونو محصولات او واښه) تر ټولو مهم زیرمی تشکیلوي چې د میلیونو خلکو له معیشت سره مرسته او د ایکوسیستم اساسی خدمات برابروي. که څه هم له دریو لسیزو څخه زیات جنګونو او د ونو نا قانونه پرې کولو، تر ډیره حده د افغانستان ځنګلونه کم کړیدي چې اوس په ټوله کې د ځمکې د پوښښ یوازي ٪۲ پاتي دی.

### مخدره توکي:

افغانستان په نړۍ کې د تریاکو یو له سترو تولیدونکو هیوادونو څخه دی (په نړیواله کچه ٪۹۰)، او د چرسو او د هیروئینو په تولید کې هم یو له مخکښو هیوادونو په لیکه کې شمیرل کیږي. بې امنیتي او د مخدره توکو تجارت یو له بل سره مرسته کوي چې په منحرف سیاست، د اداري فساد زیاتوالې باندی منتج او د نفوسو یوه لویه برخه یې په جرمونو د اخته کولو په څنګ کې د نورو منابعو د استثمار زمینه هم برابره کړیده.

UNEP Afghanistan Programme Manager: Andrew Scanlon – andrew.scanlon@unep.org www.unep.org/afghanistan www.ecobase.af